**ليکونکی : بينوی کمپ مارک (Binoy Kampmark).**
**منبع اودخپریدو نيټه : ګلوبال ريسرچ «18-03-2020».**
**ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سيد حسا م «مل» .**

**-------- [ 35 ]---------------------------------------------------**

# طا لبا نو د کود تا امتيا ز تر لاسه کړه

# The Taliban scores a coup



دغه ګواښ د( covid-19 = کرونا ويروس) د دوړی تر فشا رلاندی ورک شو، اما دفبروی ميا شت په (29) نيټه کی دطا لبا نو اودامريکی دمتحده ايالاتو استاذي په دوحه د قطر په پلازمينه کی سره وليد اوپه ا فغا نستا ن کي د اسلامی ا مارت دولت په رامينځته کيد و باندی سره دواړه خوا جوړ جا ړی اواعتراف وکړ اوپه افغا نستا ن کی د سولی دراوستلو لپاره سره تړون يا موافقتنامه لاس ليک کړل .
اودسولی دغه تړون ددوه لسيزو دوامدارو جګړو څخه وروسته لاس ليک شو چی ددی توافقنامی له مخی دامريکا دمتحده ايالاتو سرتيری به د(۱۴) مياشتو په موده کي په تتدريجي بڼی سره به دافغانستان څخه وځی کوم چي په لمړيو کی (8600)

امریکا یی سرتیری د (135) ورځو په موده کی له افغا نستا ن څخه خا رجیږی د نوموړی توافقنا می د محتویا تو په نظر کی نیولو سره دا سی موافقه شوی چی دامریکا دسرتیرو د بشپړ دوتلو میعاد (۹) میاشت په برکی نیسي یعنی چي بهرنی سرتیری (۹) میاشتي وروسته به په افغانستان کی نه وی .

**په دوحه** کی دموافقتنامی دلاس لیک کولو په مراسمو کي د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر **(مایک پمپیو)** اود طا لبا نو دسرمشری مرستیا ل **(ملا برادر)** برخه اخیستی وه سربیره پرهغه یوکس وویل چي دوګلاس لندن ( Douglas London = د سی آی اي دعملیا تونو متقاعد افسر اودامنیت مطالعا تو لپاره دجورج تاون پوهنتون په مرکزکی دملګرد همکارانو پروفیسور) هم دیو څه لږ نفوذ اوداتوریتي په لرلو کوم چي د **یومنا سب کړکی یا نسما نچي** ( convenient window dreesing = یوڅه چی د د رغلي خوښونکی یا زړه را ښکونکی د تا ثیر را مینځته کولولپاره کارول کیږي ) په بڼه کارکول هم ترسترګوکیدل اما دامریکی لخوا اصلی لاس لیک کوونکی **(زلمی خلیلزاد)** تا کل شوی وه چي تړون لاس لیک کړي – دیا دونی وړ د اچی د افغا نستا ن دولت کوم چی د (ناتو ) تر ملاتړ لاندی دي د تړون په مراسمو کی موجود نه وه یا داچی دامریکی او د طا لبا نو دګډ اعلامیی په اعلام کی حضور نه لرل. ددی تړون پایلي ښیی چی د قدرت پرسر دمذاکره کونکو ترمینځ زیات خبری اتری دطالبانو دځواک په مورد کی وه یعنی چي طا لبا نو ته په خبرواتروکی ونډه ورکړ شوی وه یعنی هغو ته کوم چي په پوره تینګتیا سره با ر با رویلی چی دا فغا نستا ن دولت یو مشروع ، قانونی یا دخلکو له خوا دولت نه دی او دوی وشو کړي چي خپل دغه خبرو ته صحت ورکړي .

په مجموع کي دواړه وسیلی یا افزار ،مختلف پړاونه اومرحلي طا لبا نو،دامریکی متحده ایالات اودا فغا نستا ن دولت ته په نظرکی نیولی دي او هغه داچي طا لبا نو ژمن دي چی دا فغا نستا ن خاوره د تروریستا نو لپا ره چي پر نورو هیوادونو اوبیا په ځا نګړي بڼه پر امریکا با ندي د یرغل نیت ولری ودی نه کا روی اود امریکی متحده ایالات ژمن دي چي خپل سرتیری او نظا می ځواک د یو تاکلي

مهال ویش پراسا س له افغا نستا ن څخه وبا سي او هم دافغا نستا ن رژیم اوطالبان دامریکی د سرتیرو دوتلو په پیل کي سره دی خبری اتری ته کیښینی او ددایمی اوربند لپا ره سره جوړ جا ړی وکړي.

وروسته دځرک (نمایش) دغلا کولوڅخه ،طا لبا نو یواځی محضاً د یوی تلپا تي سولي دراوستلو په اړه دا فغا نستا ن له حکومت سره دخبرو اترو ژمنه کړي دي اما هغوی په پوره چالاکي اوبشپړپلمی اوحیله ګری اوحتي په ظا لما نه ډول خپلو اهدافوپه ترلاسه کولوکی په ځا نګړي ډول له تاوتریخوالي څخه لاس اخیستل رد کړي دي هغوی د خپل ددی ادعا رد ول له دی نه چی خپل مخالفینو ته ووایی چي مونږ له تاوتریخوالی څخه نور کار نه اخلو خورا سخت راښکاري اوداځکه چي هغوی قصد لری چي پخپل کړونو کی تاوتریخوالی وسا تي .

دا تړون دامپرا توري د ما تی خوړلی قبرستا ن د توافقاتوپه هغه اوږد لست کی یوه بله حکا کی شوی تړون به وي چي د تا ریخ په پا د کي به وسا تل شي لکه همغسی چی افغا نا ن حق لری ادعا وکړی کوم چي هغوی دلته په افغا نستا ن کي دانګلیس اود شوروی اتحاد دیرغلګرو سرتیرو ککری د ا مپراتوری په قبرستا ن کی تر خا وری کړي دي .

دافغا نستا ن اولسمشر (محمد اشرف «غنی» ) د (1500) زندانی شوی طا لبا ن د (1000) دولتی سرتیروبند یا نودخوشي کولو په بد ل کی منلی اوتا ید کړي چی له بنده آزادشي په هغه لاس لیک شوی حکم کی چی دا فغا نستا ن د اولسمشر له خواصا درشوی داسی راغلی چي د(15)ورځوپه موده کي به هره ورځ دافغانستان له جیلخا نوڅخه (100)طا لب بند یان خوشي کیږي دامریکي اود طا لبا نودتړون پر بنیا د د طا لبا نو (5000) بندیان دافغانستان له زندانونو څخه به آزادشي .

د متحده ایالاتو اودا فغا نستا ن د دولت ترمینځ په ګډ اعلامیه کي هوکی کړ شوی چی دا فغا نستا ن حکومت متعهد دی چي (داعتماد جوړونی اقداما تو په اړه د طا لبا نو له استا ذو سره د متحده ایالاتو په مرسته یا په مینځګړیتوب خبرو اترو کی ونډه واخلي ، ترڅو چي په دواړه خواووکي د پام وړشمیر بند یا نو د خوشي کولو څرنګوالی په ګوته کړي .

د ملګرو ملتونو دامنیت شورا د مارچ په لسمه نیټه د متحده ایالاتو له خوا هغه یو اړخیز ژمن کړ شوي تړون چې د طا لبا نو اود متحده ایالاتو تر مینځ لاس لیک شوی وه تصویب کړ کوم چي داپخپله دجګړې پای ته رسیدو لپاره یومهم ګام دی او ژمنه کوي چي دسولي درامینځته کید وپه مذاکراتوکي هراړخیز ملاتړ ته چمتو دی او همدارنګه سولې ته درسیدو لپا ره د څو نورو هیوادنو تما یل ته په قدرداني یاده کړ چي د بین االافغا نی مذاکراتو دپیل داسا نتیا لپا ره کار کوی یا داچی دمذاکراتو څخه ملاتړ کوي چي د تلپاتي اوربند درامینځته کید و سبب شی یادونه وکړ .

اما دبا ور دغه رای (vote) ددی احتما ل څخه مخنیوی نه کوي چی متحده ایالات په ا فغا نستا ن کي خپل حضور سا تي او دغه تا وتریخوالي یا شخړه به دوام ولري .د مثا ل په توګه د متحده ایالاتو اودا فغا نستا ن ګډه اعلامیه دا دریځ لري چي د متحده ایالاتو له ا فغا نستا ن څخه دځواکونووتل د« طا لبا نودخپل کړو ژمنو په پوره کولو یا په پرخای کولو » پوری تعلق نیسي یعنی که چیري طالبانو خپل کړي تول ژمني په بشپړه بڼی تر سره کړي نوپه هغه صورت کي امریکایی ځواکونه له افغا نستا ن څخه به وځي.

هغه کسا ن چی دامریکي د متحده ایالاتو د پل نخش (ردپای) دځنو برخو مانع ګرځی دهغوی شمیر زیات دي سره دهغه چی کلونه راهیسی دهغوی دتلفاتو شمیر زیات شوی هم دي .- **پاول دی میلر** (Paul D Miller) دامریکی ددواړو جمهورو ریسا نو یعنی د**جورج دبلیو بوش** اود«**اوباما**» د ملی امنیت د دفترپخواني کارمند په دغه ناثابت او شکنن تړون کي نیمګړتیاوی او ګواښونه وینی یعنی دهغه په ګمان دجنګ دقانون په نظرکی نیولو سره دغه تړون به څیری او توټی توټی به شي او په قوی ګمان سره القاعده به بیا په زور او قوت سره بیرته به راستون شي اودلته دیو نا بللی میلمه په ډول ځای پر ځای شي یعنی افغانستان به دالقاعدی له سره پټن ځای شي نو ددی اصل په نظرکي نیولو سره **دونالد ترامپ** اودهغه ځای نا ستي با ید چی دغه تړون فسخ کړي اود نظا می ځواک دفشار په کارولو سره اقدام وکړي تر هغه پوری چي طالبا ن خپل اړیکي له القاعده سره وشکوی

*یا پریکړي. نوپه دی لحاظ دامریکی ژمنی باید (روښانه) مشخص او داندازی کولو وړ وي – ترهغه چي طالبانو دجزیاتو دراڅیړلو څخه د ناتوانی په لړلو سره اوپرهغو باندي دزور په تحمیلولو سره دی ته تیار شی چی په ناچاری سره زور ته غاړه کیږدي .*

*د **میلر** له نظره په ا فغا نستا ن کي دامریکی دځواکونود پا تي کیدو په اړه خبره دي ځای ته رسي چي هغه دامریکي دخلکو دویا ړني اویا د سپکا وی پړ بنسټ ولاړدي نو د **میلر** له نظره با ید چي د ا مریکي عا مه خلکو ته وویل شي چي دامریکی مسلح قوتونه د مطلقه ځواک د سا تلو د په نظر کي نیولو سره کم ترکمه باید په جدي توګه په نظر کی ونیول شی اوتیر یا پخوانی مسله با ید چي له پا مه وغورځول شی اوددوهم حالت څخه با ید چي ګټه تر لاسه کړ شي اوهغه داچي د سرتیرو حضور په ا فغا نستا ن کي دتلفا تو له نظره دومره زیا ت هم نه دي اوهم زیا ت ما لی لګښت ته ضرورت نه لري . هیڅ ضد جنګي جنبش وجود نه لری دامریکي خلک له جګړي څخه ناروغه یا بیمار نه دي ، دوي حتی په سختی سره دي موضوع ته پام نه سا تي .*

***دوګلاس لند ن** ، د **میلر** د ډیرو ټکو سره موافق دي ، هغه د ورته عقیدی سره طا لبا ن ګوری چي هغوی څرنګه په لمړي سرکي یي ا مریکا یی ځواکونه افغا نستا ن ته راوړي یا دامریکا د ځواکونو دراتګ لاره دا فغا نستا ن په لوری اواره وی، دغه تړون په « ساده ډول » طا لبا ن د [ترهګرو ] ډلو سره اړیکي وشلول یا داچي طالبانو هغوی له خپل ځانه څخه شړي .*

*اماځني نورمواظبت کونکي یا پرستاران محضاًپه احتمال سره عذاب ایښودونکی یا عذاب راوړونکی فرضیی سا تي یا په نظر کي نیسي - **لاورینس جی . کورب** ( Lawrence J.Korb )په کال(2010) په افغانستان کي دجګړي دپاي ته رسولو په هڅو باندي خبری کولي نوهغه د کال (2002) د بوش د دولت د فرصتونو دلاسه ورکولو ته ګوته کړل اوهغه داچي که دهغه اداره د هغه وخت شرایط په نظر کي نیولای وای نو طا لبا ن هرومرو له مینځه تلل ، اما ستونزه له دی امله پیچلی شو چی **دبوش** اداره په عین وخت کی له یوی خوا دطالبانو پر ماتیدو یا*

له مينځه تلو با ند ي هڅه جا ری وسا تل اود بلی خوا د ملت جوړوني هد ف د ترلاسه کولو په نيت يولړ کړنی ترسره کړ کوم چي دغه دواړه اهداف ستونزی پيچلی کړ.د بلی خواڅخه هغه فکری تسلسل چي دامريکي په استراتيژيکی انديښنه کي ثابت او پايدار پاتي دي، هغه دا دي چی دمسولو مقاماتو له نظره اکثر ياغيان يا شورشيا ن بهرنی دی نه دهغه هيواد اصلی وګړی نو د همدی ا صل له مخی هغوی د محلی خلکو ملاتړ له ځانه سره نه لری نو کيدی شو چي په آساني سره تر کنترول لاندی راغلی وای اويا له مينځه تللی واي .

په دی کي شک نشته او هغه داچي طا لبان ډيرسختګيراوپه ظاهرکي نه له مينځه تلونکي دي کوم چي دحالاتو په ټول جريان کي دامپراتوری د تشويق کونکي ډلو په پرتله د ډ ير قوی زړونو خا وندان دي اودا ځکه چي هغوی په پوره شوق اوليوالتيا سره دخپل دښمن په وړاندي عمليات بيا له سره پيل کړل ، اودافغانستان مرکزی دولت په ناچا ره بڼی سره نسبت د هغه کمزوره موقف په لرلو سره مذاکری ته راوبلل(يا دافغانستان د ګوډاګي رژيم ملاتړ يعنی امريکی دی ته اړ کړ چی دطا لبا نو سره د مذاکری د ميز تر شا کيښنوی يعنی په واقيعت کي کمزورتيا اصلاً دامريکي د متحده ايالاتو په نظا می ځواکونو کی کوم چي په افغا نستا ن کي ځای پرځای دي موجود دي ......... د ژبا ړونکي تبصره ) .

حتي **کورب** دورک شوی يا دلاسه ورکړ شوی فرصتونو په غم او وير کولو سره احساس وکړچی دا نور هغه ډول شخړي اويا تاوتريخوالي نه ده ، چي متحده ايالات يی بايد ورسره مقابله وکړي لکه څنګه چي امريکا په ويتنام کي له فرانسي څخه ښه نه وو کارکړي ، اوس ددی وخت دي چی دامريکي چارواکي خپل سر راخلاص کړي او وپوهيږي چی امريکا په افغانستان کي دانګليس يا دشوروی په پرتله به ښه يا بهتر نه وی چي پا تي شي اوداهم مهم نه دي چي دخپل پا تي کيد و لپاره تر کومه وخته پوری په هڅه اواند کي اووسی .

**ددی مقالی دليکونکی په اړه څوکرښی :**

ډاکټر بنوی کامپرمک په سيلبين کالج ، کامبريج کې د کامن ويلث سکالر و .هغه په ميلبورن کې د RMIT په پوهنتون کې تدريس کوي .هغه د نړيوالې خيرنې او

*آسیا - پسیفیک څېړنو کې تکراري مرسته کونکی دی بریښنالیک :*
*bkampmark@gmail.com*

**----------------------------------- په درناوي « 20-03-2020 »**